**د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا**

**موضوع:** د صدف مطبعې ته د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې له مخې، په دې وسیله ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري د **افغانستان بانک د ریاست د دفتر د عمومي آمریت د عامه پوهاوي لپاره د چاپي او تبلیغاتي موادو د چمتو او چاپولو پروژې** تړون **صدف مطبعې** ته، چې د **D-39273** شمېرې جواز لرونکې ده او اصلي موقعیت یې **د کابل ولایت، آریا مارکیټ، دربیم پوړ** دی، د **2,469,700(دوه میلیونه، څلور سوه نهه شپېته زره او اوه سوه) افغانیو** په ټولیزه بیه ورکړي.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له حکمونو سره سم، خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن‌سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.